The Lighthouse Journal of Literature & Linguistics, Vol. 04, Issue 01, Summer 2025, pp. 60-72

# د غني خان په شاعرۍ کښې مادي فولکلور

**Muhammad Raziq [1], Dr. Shakeel Ahmad [2]**

## ABSTRACT

*Folklore refers to the collective body of cultural knowledge, traditions, customs, beliefs, myths, legends, tales, proverbs, and practices that are transmitted across generations within a particular community. It embodies the lived experience of a people and serves as a repository of shared identity, memory, and value systems. Folklore is commonly classified into three interrelated forms: material folklore, encompassing tangible cultural expressions such as clothing, architecture, crafts, and weaponry; semi-material folklore, comprising cultural forms that blend physical objects with performative or ritualistic functions—such as folk music, dance, and ceremonial practices; and non-material folklore, which includes intangible elements like oral narratives, beliefs, customs, and linguistic traditions. Together, these dimensions offer a comprehensive understanding of how cultural meaning is preserved and transmitted through both physical and symbolic mediums. This research paper examines the presence and function of material folklore, with a particular emphasis on traditional weapons and weaponry, in the poetry of Ghani Khan, an eminent Pashto poet and philosopher.*

***Keywords:*** *Ghani Khan, Material Folklore, Poetry.*

الله پاک بنیادم ته پوهه او شعور وربخښلے دے، له دې کبله ئې د دنیا په ټولو زنده سرو کښې غوره او افضل ګرځولے دے. بنیادم په دنیا کښې زیات کارونه د عقل په بنیاد کوي او له دې عقل له کبله ورته د "اشرف المخلوقات" درجه ورکړے شوې ده. دغه رنګ انسان د تغیر بچے دے. په ژوند کښې بدلون غواړي هر وخت د خپل ژوند د تېرولو لپاره د نوي نوي زده کړو په تکل کښې وي.

د ژوند په سفر کښې چې کله نه بنیادم قدم کېښودو نو د ضرورتونو تر سره کولو موقعې ورته په لاس ورغلې او خپل ضرورتونه ئې تر سره کړل. د دې ضرورتونو او مسئلو حل کولو لپاره ئې چې په قومي او قبیلوي توګه کومې طریقې خپلې کړي دي کوم دستورونه، رواجونه، قدرونه او رنګ رنګ اوزارونه او نور څیزونه ئې پکارولي دي او دا ټول څیزونه بیا په دغه قام قبیله کښې د یو نسل نه بل نسل ته منتقل شوي دي نو هغه بیا په دغه قوم یا قبیلې پورې خاص شوي دي. تر دې چې پوهان دغې څیزونو له د "فولکلور یا

[1] Muhammad Raziq Ph.D. Scholar, Department of Pashto, University of Peshawar.Pakhtunkhwa. **Corresponding author: dr.raziq1978@gmail.com**

[2] Dr. Shakeel Ahmad Lecturer, Department of Pashto, University of Peshawar.

Manuscript Received: May 05, 2025
Manuscript Accepted: June 09, 2025

اولسي ادب" نوم ورکړے دے. انسائيکلو پيډيا برټانيکا د فولکلور د لفظ وضع کوونکے ډبليو جے تهامس ګڼي او ليکي چې:

"Folklore the word was coined by W.J Thomas in 1846 to denote the tradition, customs and superstitions of the uncultured classes in the civilized nations." (1)

ژباړه: "د فولکلور کلمه په کال ۱۸۴۶ء کښې د ډبليو جے تهامس لخوا په متمدن هېوادونو کښې د غېر کلتوري طبقو د رواياتو، دودونو او توهماتو د څرګندولو لپاره جوړه شوې ده."

فرهاد وسيم يوسفزے د فولکلور د پېژندنګلو پحقله په خپل کتاب "فولکلوري ادب" کښې د فولکلور تعريف څهٔ دا رنګ کوي:

"فولکلور اصل کښې د لاطينۍ ژبې تورے دے چې يونان، فرانس او بيا په اخره کښې انګرېزۍ ژبې خپل کړے دے. او بيا د انګرېزۍ نه مشرقي ژبو هم په دغه معنٰی او مطلب سره پکارولے دے. ځينې پوهان وائي چې دا تورے په کال ۱۸۴۶ء کښې په وړومبي ځل يو انګرېز اديب استعمال کړے وهٔ. پس د هغې نه بيا په ادب کښې هم په دغې نامه يوه څانګه جوړه او مشهوره شوه. چې نن هم په کلتوري څانګه يادېږي." (2)

فرهاد وسيم يوسفزے وړاندې د فولکلور د توري د تعريف پحقله ليکي چې:

"اصل کښې فولکلور دوه توري دي يعني فوک او لور. د فوک معنٰی ده اولس، يوه ډله، يوه ټولنه، يو ګروپ او لور نه معنٰی زده کړه ده. د دې معنو تر لاندې د فولکلور نه مطلب شو د عوامو يا د اولس زده کړه." (3)

سر محقق محمد صديق روهي په "فولکلور پېژندنه" نوم کتاب کښې ليکي چې:

"فولکلور ته په درې ژبو کښې (فرهنګ عوام) يا (فرهنګ مردم) او کله کله (فرهنګ توده) وايو. په ترکي ژبه کښې ورته (حلقيات) وئيل کېږي. په پښتو ژبه کښې د علمي او فرهنګي مؤسسو لخوا

فولکلور ته کومه ټاکلي کلمه نۀ ده وضع شوې. خو ځینو منفردو لیکوالو کله کله د فولکلور پر ځای د (اولسي پوهې) کلمه استعمال کړې ده. په دغه اثر کښې د (فولکلور) بېن المللي اصلاح کارول شوې ده. ځکه تر اوسه پورې یو مناسبه کلمه زما له نظر نه نۀ ده تېره شوې چې د فولکلور په ځای ئې استعمال کړم. "[4]

په قام یا اولس کښې د هغوي فولکلور ډېر اهمیت لري. د نوي دور د ټېکنالوجۍ سره د دې ارزښت نور هم زیات شوے دے. ځکه ئې د اولس په فولکلور او کلتور باندې د نړیوالتوب اثرات ډېر شوي دي او که یو قام یا اولس خپل فولکلور اړخ ته غور او نۀ کړي نو د هغوي د ورکېدو خطره وي. فولکلور د اولس د ژوند هنداره وي. د هغوي د ژوند تېرولو ټول اړخونه رابرڅېره کوي. د هغوي ذهنیت په ډاګه کوي او د هغوي علمي سطح معلوموي. په دې وجه دا ډېر زیات د قدر وړ وي.

د فولکلور قسمونه

فولکلور ځینو لیکوالانو او پوهانو په درېو حصو/برخو کښې تقسیم کړے دے:

(۱) مادي فولکلور چې کالي پتري، جامه، پېزار او سیکې وغېره پکښې شاملې دي.

(۲) نیم مادي فولکلور چې توهمات، دود دستور، پال، خوب، جادو او تعویذ وغېره پکښې راځي.

(۳) غېر مادي فولکلور چې داستانونونه، قیصې، سندرې، متلونه، اړونه او محاورې وغېره پکښې شاملې دي.

ګڼ شمېر پښتنو شاعرانو دغه فولکلوري توکي په خپله شاعرۍ کښې خوندي کړي دي. غني خان چې د جدید دور په شاعرانو کښې یو ځانګړے مقام او حېثیت لري، هم د نورو پښتنو شاعرانو په شان فولکلوري توکو له په خپله شاعرۍ کښې ځاے ورکړے دے. او دغه توکي ئې په خپله شاعرۍ کښې تل د پاره خوندي ساتلي دي.

وسلې او په جنګونو کښې پکاروونکي څیزونه

پښتون قوم په نړۍ کښې یو تُورزن او جنګجو قوم یادېږي. د تاریخ د ابتدائي دور نه ئې د مړانې او بهادرۍ اندازه لګي. د مختلفو قومونو او قبیلو سره ئې په مختلفو وختونو کښې جنګونه

کړي دي او خپل دښمن ئې د جنګ د مېدان نه په تېښته مجبوره کړې دے . داسې جنګيالے قوم دے چې د سکندر اعظم غوندې بهادر جنګجو ئې هم په اسانه په خپله علاقه قبضه کولو ته نۀ دے پرېښودے . د دغې جنګونو لپاره ئې قسم قسم اسلحې پکارولي دي او د دښمن لښکرې ئې پرې زغلولي دي . د غني خان په شاعرۍ کښې د ځينو وسلو ذکر څۀ دا رنګ شوے دے .

تُوره

"توره د دهات په زمانه کښې جوړه شوه چې له جنګ د پاره دومره مؤثره شوه چې د نوي دور د ټوپک د جوړېدو نه وړاندې په ختيځ او لوېديځ دواړو کښې دا تر ټولو ضروري وسله ګڼلے شوه ." (5)

تُوره له پخوا راسې د جنګونو د پاره يوه اهمه وسله ده . کله چې نوې ټېکنالوجي نۀ وه او نړۍ لا دومره پرمختګ نۀ وۀ کړے هغه وخت به جنګونه او مبارزې په تُورو باندې کېدلې . دغه تُورې به په جنګونو کښې يوه مهمه برخه درلوده . د نړۍ ډېرو قومونو جنګونو او مبارزو کښې د تُورو استعمال کړے دے.

غني خان هم په خپله شاعرۍ کښې ځاے په ځاے د تُورې ذکر کوي او د جنګ په مېدان کښې هغه سړے کاميابه بولي چې تُوره اوچلوي او د دښمن لښکر پرې اووهي لکه چې وائي:

تُوره راواخله، تُوره پورته که
مېدان ته ځه
لُوګے لمبه شه په مستۍ کور د
جانان ته ځه (6)

يو بل ځاے پښتون زلمي ته د تُورې اهميت يعني دلته د تُورې نه مراد مړانه ده . مثال ئې څۀ دا رنګ ورکوي لکه چې وائي:

جنګ کښې هم په شا نۀ شي
نۀ ځي پښتانۀ په شا
زۀ چې چرته وتے يم
تُوره په مېدان کړمه (7)

ډال: 

ډال هم یو جنګي اوزار دے چې په لرغوني زمانه کښې به په جنګ کښې د خپل حفاظت د پاره خلقو د ځان سره ساتلو او ځان به ئې پرې د تُورې یا غشي د ګزار نه بچ کولو. پښتون قوم بلها جنګونه کړي دي او په دغه جنګونو کښې ئې ډال هم پکارولے دے له دې وجې مونږ وئیلے شو چې ډال زمونږ په فولکلور کښې د جنګي اوزارو یوه برخه ده. غني خان هم په خپله شاعرۍ کښې د ډال ذکر ډېر ځایه کړے دے لکه چې وائي:

تُورې چې چغه د کفر وکړه
ډال ئې پېدا کړو، قلا ئې راوړه
(8)

## غشي

دا هم د لرغوني زمانې یوه جنګي وسله ده. چې په انګلیسۍ ژبه کښې ورته (Arrow) په اُردو کښې ورته تیر او په پښتو ژبه کښې غشے یا ناوک هم وائي. د دنیا نورو قومونو هم غشے یا ناوک په مبارزو او جنګونو کښې پکارولے دے. خو په پښتنو کښې د دې جنګي استعمال دومره عام وۀ چې فولکلوري رنګ ئې اخستے دے بله دا چې په پښتنو کښې د غشي یا (ناوک) وړومبے پکاروونکے معلوم نۀ دے. په دې وجه ئې مونږ د فولکلور برخه ګڼلے شُو. غني خان په خپلو شعرونو کښې غشے څۀ دا رنګ یاد کړے دے:

نۀ مې یار شته نۀ به وشي
اوسني یاران دي خوشي
چې حاجت ئې درته وینه
ستا به پلار نیکۀ هم ښۀ شي
کار چې خلاص شي داسې تښتي
د لیندې نه لکه غشي(9)

## لینده:

لینده په دوه قسمه وي یو قسم هغه چې خلق ئې د مرغو د ښکار لپاره پکاروي او بل قسم هغه چې په لرغوني زمانه کښې به په جنګونو کښې پکارولے شوه. دا هم د پښتنو د فولکلور یوه اهمه برخه ده چې اوس ئې هم پښتانۀ په مختلفو شکلونو کښې پکاروي.

غني خان زمونږ د فولکلوري څیز لینده څۀ دا رنګه یادوي او وائي:

زۀ به تل حسېن يم او ښکاري به تل يزيد وي؟
لاس کښې کله دام، کله ټوپک، کله لينده ؟[10]

زغره:

زغره په لرغوني زمانه کښې په مېدانِ جنګ کښې يوه حفاظتي وسله وه چې د اوسپنې نه جوړه او د قميص غوندې اغوستلف شوه . چې بنيادم به پرې د تُورې د ګزار نه ځان بچ کولو، د لرغوني زمانې داسې په جنګونو کښې پکارلے شوې ده . په اردو ژبه کښې ورته (زره) وائي . پښتون قوم هم په جنګونو کښې پکارولې ده خو دا نۀ ده معلومه چې وړمبي ځل د زغرې استحصال په پښتنو کښې چا کړے دے . په دې وجه مونږ دا وئيلے شو چې زمونږ د مادي فولکلور برخه ده . غني خان دلته پښتنو زلمو ته ډېر په ښۀ انداز کښې د زغرې اهميت په ګوته کړے دے لکه چې وائي:

سترګې ډکې رڼا ستا لاس دې تش تُوره دې څۀ شوه
د غضب په نيلي سور شوې فولادي زغره دې څۀ شوه[11]

د موسيقۍ او سرود آلات:

پښتانۀ د ټنګ ټکور سره هم ډېره مينه لري . ګډاګانې، اتڼونه هم کوي . د حجرو او بېټکونو مېئلسونه هم خوښوي . بلها د موسيقۍ او سرود سره تړلي څيزونه (آلات) د دغې ټنګ ټکور د پاره پکاروي . په دغه څيزونو کښې د ځينو ذکر مونږ ته د غني خان په شاعرۍ کښې هم په نظر راځي . چې د پښتنو د مادي فولکلور برخه ده .

رباب:

رباب چې د پښتنو د حجرو او بېټکونو اواز يو جدا خوند پېدا کوي . له دې نه بغير مېلسونه نيمګړي وي چې څومره د رباب تارونه سدا وي دومره مېلس خوندور وي او پښتانۀ په وجد کښې راځي او ګډاګانې او اتڼونه ورته کوي . دا هم يو مادي حېثيت لري په دې وجه د پښتنو د مادي فولکلور برخه ده . غني خان په خپله شاعرۍ کښې په ډېرو ځايونو کښې ستائيلے دے لکه چې وائي:

ما وې د لېلٰى شونډې به غوټۍ وي د ګلاب
ښائسته به پرې سازونه ټنګوي لکه رباب[12]

تمبل

تمبل هم په اولسي پوهې يوه برخه ده چې د موسيقى (سرود) سره اړيکه لري او په خصوصي توګه ئې زنانه د ښاريو په موقع وهي . چې کله په پښتنو کښې وادهٔ يا بله د خوشحالى موقع وي نو پېغلې يا مشرانې زنانه په يوځاے ناستې وي او تمبل غږوي . مختلفې اولسي سندرې ورسره وائي . غني خان هم په خپله شاعرى کښې د تمبل ذکر ډېر ځاے کړے دے لکه چې وائي:

يا ما به خندولې جونې ښکلې سرې بلبلې
بوډا شاخېل شوم وېم شلېدلې تمبل ته غز
ئې(13)

شپېلى

شپېلى هم د پښتنو د سرود يوه آله ده او له لرغونې زمانې راسې ئې پښتانهٔ د ټنګ ټکور د پاره پکاروي . د ټنګ ټکور نه علاوه ئې هسې هم غږوي . لرغونې زمانه کښې به شپونکو ځان سره شپېلى ساتلې او کله به ئې چې بيزې يا ګډې څرولې نو د يوې ونې د لاندې به سېورې تهناست وهٔ او شپېلى به ئې غږوله .

غني خان د شپېلى ذکر داسې کوي:

لکه د ستوري تهٔ ئې ګل د اسمان
د جهان ډنډ کښې دې زهٔ عکس نهٔ يم
د شپېلى ساز پسې يم کله روان
کله په زرکو کښې ستا رقص نهٔ يم(14)

## جامې زړوکي او د اغوستلو نور څيزونه

د نړى په مخ پښتانهٔ ډېر مهذب او غېرتمند قوم بللے شي . د پردې ډېر زيات خيال ساتي او د دغې ژوندے ثبوت دا دے چې په کور باندې ئې ور (دروازه) هم لګېدلې وي خو بيا پرې پرده پرده هم ځوړنده وي . هم دغه وجه ده چې د جامو او دغه رنګ د نورو خصلتونو، پوشاکو اهميت پکښې ډېر زيات دے او دا زمونږ د پښتنو مادي فولکلور کښې هم شامل دي . غني خان هم په خپله شاعرى کښې د دغه خصلتونو، لباس او پوشاکو ذکر کړے دے

## پټکے (دستار)

پټکے یا دستار، چوتاد، پګړۍ په پښتنو کښې ډېر د عزت او قدر علامت ګڼلے شي . په پښتنو کښې چې کوم کس د خاندان یا قبیلې مشر وي او د پوهې او علم، قدر او عزت خاوند وي هغه پټکے (دستار) په سروي .

غني خان په خپله شاعرۍ کښې پټکے (دستار) څۀ دا رنګ یادوي .

چې پټکے ئې پرېږې وي، په حجرو کښې ازمري وي
ناست د مرچو وي په څټه، د ځان نۀ ویني ثاني[15]

## شړۍ (څادر):

شړۍ (څادر) د پښتنو جامه ده چې د یخنۍ په موسم کښې د یخ نه د بچ کېدلو او ځان تود ساتلو لپاره ئې پښتانۀ پکاروي . د ګډو د وړۍ او دغه رنګ د تارونو وغېره نه جوړولے شي . د پښتون قوم په جامه کښې ډېر د قدر وړ دے . غني خان هم خپله شاعرۍ کښې ځاے په ځاے یاده کړې ده .

دا مستي یو ساعت دا پستي یوه ګړۍ
دا سُور شال د امیر د فقیر دا شړۍ[16]

## کالي پتري او د سینګار نور څیزونه

د هر قوم په عمومي توګه نارینه او په خصوصي توګه زنانه د خپل ځان ښائسته کولو لپاره مختلف قسمه څیزونه پکاروي چې هغې سره ئې ښائست یو په دوه شي . دغه رنګ د پښتون قوم سړي او ښځې هم مختلف قسمه کالي پتري او د سینګار نور څیزونه پکاروي چې هغه زمونږ د فولکلور برخه ګرځېدلې ده . په دغې څیزونو کښې ځینې څیزونه مونږ د غني خان په شاعرۍ کښې لیدے شو .

پانزېب

پانزېب د پښتنو جُونو کالے دے چې د ښائست لا زیاتولو لپاره ئې پښو ته اچوي . دا د مختلفو دهاتونو نه جوړولے شي، پښتنې جُونې چې کله پانزېب پښو ته واچوي او په لار روانې وي نو د پانزېبو شړنګا ئې تر لرې لرې اورېدے شي . غني خان پانزېب په خپله شاعرۍ کښې څۀ دا رنګ یادوي .

په غوړونو کښې شړهار د ساز
د ګنګرو پانزېب او خندا اواز[17]

پېزوان:

پېزوان د زنانؤ کالے دے چې په پوزه باندې ئې اچولے شي دا د سرو زرو او دغسې د نورو مختلف دهاتونو نه جوړولے شي ۔ پېغلې جُونه ئې ډېر په مينه باندې اچوي ۔

غني خان په خپله شاعرۍ کښې پېزوان ذکر کړے دے ۔ لکه چې وائي:

لاس ئې ربه مات کړې چې وهي د پښتون
خود
کاشکي د دۀ پوزه کښې د دۀ د خود
پېزوان وۀ[18]

باهو

باهو د پښتنو جُونو کالے دے چې د ښائست لا زياتولو لپاره ئې لاسونو ته اچوي ۔ دا هم د مختفلو دهاتونو نه جوړولے شي ۔ غني خان په خپله شاعرۍ کښې باهو څۀ دا رنګ ياد کړے دے لکه چې وائي:

يو ئې په پستو پستو سوالونو د ارمان
بل ئې په باهو او په جلال او په قدرت[19]

فصلونه او خوراکونه

پښتانۀ هنرمند هم دي او کرونده هم کوي ۔ مختلف قسمه فصلونه او غلې دانې کري ۔ او د دغې فصلونو نه قسما قسم خوراکونه تياروي چې هغه زمونږ د فولکلور برخه ګرځېدلې ده ۔ د ځينو فصلونو او خوراکونو ذکر مونږ د غني خان په اشعارو کښې ليدے شو چې څۀ دا رنګ ئې ذکر کړے دے ۔

اوربشې

اوربشې لکه د غنم او جوارو په شان د لرغونې زمانې راسې زمونږ د پښتنو خوراک دے اوربشې په ډېرو ملکونو کښې کرلے شي او تقريباً د نړۍ د ټولو ملکونو خلق ئې استعمالوي خو د هر ملک او قوم خلق ئې په بېلو بېلو طريقو سره استعمال

کوي . د مثال په توګه انګرېزان خلق ئې د فاسټ فوډ په شکل کښې او پښتانهٔ يا نور قومونه ترې ډوډۍ او نور روايتي خوراکونه تياروي او د مختلف قسم بيمارو لپاره هم پکارېږي . له دې وجې نه اوربشې زمونږ د مادي فولکلور يوه ځانګړې برخه ده . غني خان اوربشې څهٔ دا رنګ يادوي:

نو اودهٔ اوس هېڼ پکښې اوخوره پکښې اوربشې
تشو کښې دا ډکې وي تل، ډکو کښې دا تشې[20]

وريژو پلاؤ

پښتون قام د لرغونې زمانې راسې د وريژو پلاؤ سره ډېره مينه لري او د وريژو پلاؤ خو په پښتنو کښې ډېر زيات مشهور دے . له دې وجې دا هم زمونږ د مادي فولکلور برخه ده . غني خان د وريژو پلاؤ په خپله شاعرۍ کښې څهٔ دا رنګ يادوي:

چې څوک سوال د پولاؤ وکړي ورکړي دال
اکثر خور کړي په ښکاري د ښکاري جال[21]

د کور لُوښي لرګي او نور اوازار

د کور لُوښي لرګي او نور اوزار زمونږ د مادي فولکلور برخه ده . له دې وجې نه د غني خان په شاعرۍ کښې ځاے په ځاے ذکر شوے دے .

تنور

تنور زمونږ د مادي فولکلور برخه ده . کله چې پښتنې جُونه په تناره ډوډۍ پخوي نو زمونږ شاعران ئې په ټپه کښې داسې يادوي .

په تناره ولاړې پېغلې

ډوډۍ دې نهٔ خورم د ديدن اوږے دې يمه[22]

دغه رنګ غني خان هم ځاے په ځاے د تنور ذکر کړے دے .

ځان مستول مينه او خمار دې زياتول
دې د ژوند تنور کښې سور انګار دي

زيـــــاتـــــول (23)

خانک/ښانک:

خانک هم د پښتنو د مادي فولکلور يوه برخه ده . چې په کورونو کښې د مختلفو ضرورتونو تر مخه پکارولے شي . د سلور ، ستيل او اوسپنې نه جوړېږي او د لرګي نه هم تيارولے شي . د خانک ذکر غني خان داسې کوي .

ستا مو ٰسی له لوړې تندې او خرمو له ډک
ښـــــارونـــــه
ستا اشنا منصور له دار او ملا له
خـــانـــکـــونـــه (24)

کټ/پالنګ

کټ د پښتنو د کورونو او حجرو يوه اهمه برخه ده په دې وجه مونږ ئې د خپل فولکلور برخه هم ګڼو . دغه کټ چې په کښې د وادهٔ زلمے اچولے شي او يا د ناوې د پاره سنبال کړے شي نو بيا ترې پالنګ جوړ شي . غني خان په خپله شاعرۍ د کټ او پالنګ ذکر بلها ځاے کړے دے لکه چې وائي:

د يزيد په سُور پالنګ کښې په ژوندون
ځُـــورې غـــلـــمـــان
د حسېن جانان مرګے دے او پالنګ ئې
رېـــګـــســـتـــان (25)

د دې تحقيقي مقالې د نتيجې په توګه مونږ وئيلے شو چې د غني خان په شاعرۍ کښې مادي فولکلور نهٔ يواځې يو شاعرانه تکنيک دے بلکې د کلتوري ميراث د ساتنې او ځرګندولو يوه مؤثره وسيله هم ده .

غني خان ئې په خپله شاعرۍ کښې داسې شيان يادوي لکه جامې، اوزار، لوښي او دستکاري وغېره چې دا يواځې د ښکلا د پاره نهٔ دي بلکې خپل کلتور، تاريخ او دودونه پکښې ښکاره کوي . مطلب دا چې د غني خان شاعري نهٔ يواځې لوستونکيو له خوند ورکوي بلکې خپل کلتور، ژوند او تاريخ سره ئې نښلوي . لنډه دا چې د غني خان دغه قسمه شاعري يو ژوندے، کلتوري عکس دے چې د مادي فولکلور د لارې يو پياوړه پېغام رسوي .

حوالې او حاشيې


1. انسائيکلو پيډيا برټانيکيا، جلد ۹، لندن، برطانيه، ۱۷۴۸، مخ ۴۴۶
2. يوسفزے، فرهاد وسيم،"فولکلوري ادب "، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، جون ۲۰۲۱ء، مخ ۸۴
3. هم دغه اثر
4. روهي، محمد صديق ، "فولکلور پېژندنه"، د افغانستان د علومو اکادمي، ۱۳۶۵هـ، مخ ۷
5. داؤد، داور خان، "خوشحال او فولکلور"، جدون پرېس لاهور، ۲۰۰۳ء، مخ ۱۴۹
6. ترکزے،اياز الله، فېصل فاران، "د غني خان کُليات"، اعراف پرنټرز پېښور، ۲۰۲۴ء، مخ ۲۳۷
7. غني خان، "لټون" ،عبدالحليم پرېس لاهور، ۲۰۱۷ء، مخ ۶۳
8. هم دغه اثر، مخ ۵۲۷
9. هم دغه اثر، مخ ۷۰۷
10. هم دغه اثر، مخ ۱۸۵
11. ترکزے،اياز الله، فېصل فاران، "د غني خان کُليات"، اعراف پرنټرز پېښور، ۲۰۲۴ء، مخ ۳۳۰
12. هم دغه اثر، مخ ۳۳۵
13. غني خان، "لټون"، عبدالحليم پرېس لاهور، ۲۰۱۷ء، مخ ۷۴۷
14. ترکزے، اياز الله، فېصل فاران، "د غني خان کُليات"، اعراف پرنټرز پېښور، ۲۰۲۴ء، مخ ۲۷۷
15. هم دغه اثر، مخ ۲۵۲
16. غني خان، "لټون"، عبدالحليم پرېس لاهور، ۲۰۱۷ء، مخ ۵۴۸
17. ترکزے، اياز الله، فېصل فاران، "د غني خان کُليات"، اعراف پرنټرز پېښور، ۲۰۲۴ء، مخ ۱۳۹
18. هم دغه اثر، مخ ۳۱۰
19. هم دغه اثر، مخ ۱۴۹

20. غني خان، "لټون"، عبدالحلیم پریس لاهور، ۲۰۱۷ء، مخ ۴۰۸
21. هم دغه اثر، مخ ۱۹۷
22. خان، عبدالولي خان، "ملغلرې"، ۲۰۱۳ء، مخ ۱۹
23. ترکزے، ایاز الله، فېصل فاران، "د غني خان کُلیات"، اعراف پرنټرز پېښور، ۲۰۲۴ء، مخ ۱۴۸
24. غني خان، "لټون"، عبدالحلیم پریس لاهور، ۲۰۱۷ء، مخ ۱۹۰
25. هم دغه اثر، مخ ۵۹۵